مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۴/۰۸/۲۲

# یوه خاطره

## د بابړی د کربلا د شهیدانو او اروښاد ګیله من په یاد

د هجری شمسی کلنو ۷۲ یا به ۷۳ وو ،چې لا دمخه به وو خو ښه می یاد نه دي، چې په کابل کې ، د پردیو د استخباراتو ،په اشارو تنظیمی جنګونه روان ول ،د پوستین ګنډلو د دکانونو .تر څنګه د کابل ولایت مخی ته تیریدم،په داسی حال کې چې د راکتونو د وریدو له ډاره هر چا هڅه کوله چې ځان .یو آمن ځای ته ورسوی . چې په دي وخت کې په کابل کې بل رنګی کربلا روانه وه،چې دا په خپله یوه کربلا وه ،په دي ورځو کې ویل کیده ، چې ګلبدین حکمتیار یو بیګناه خبریال د میرویس جلیل په نامه بی ګناه وژلی. هر چا ځان د راکتونو له ویري له سړک څخه ګوښه کوو.ډیرو ماشومانو د یوې مړي روزی له پاره دا ټول خطرونه یې په خپل سر قبول کړي وو ،او د سړک په خوا کې یا د سړک تر غاړې یې کتابونه خرڅول ،، زما یو ډیر غریب ماشوم ته پام شو ، چې ډیر زاړه کتابونه یې چې د خلکو له کورو څخه راټول کړي وو ، دا یې د سړک پر غاړي غوړولی وو،،چې په کې ډیر د کار کتابونه هم ښکاریدل ،نو ما ډیر ژر یو کتاب چې شاتینی پوخ یې هم شلیدلی وو ، دا می واخیست ،چې دا کتاب د بینوا د اوسنې لیکوال دریم توک وو، چې کله جنګونو زور واخیست او زه جلال آباد ته کډه شوم، نو په کتاب کې څرنګه چې دا د شاعرانو تذکره وه ، نو د فدا استاد ژوند لیک او شعرونو نمونې په کې وي، چې دا شعر یې لیکلی وو ، چې ډیر په زړه پوری او مشهور دی چې د 1948 کال د بابړۍ د کربلا په هکله یې ویلی وو، چې عنوان یې دی: «مرګیه مه راځه درځمه» دا زوړ کتاب بیا تر ډیر پوری راسره وو، خو نور یادښتونه او لیکنې په دي وخت کې رانه ورکې شوي .د جلال آباد د یوکال اوسیدو په مهال، همدا یو کتاب راسره وو ، چې د فدا دا شعر به می ډیر ځله لوسته دا شعر یې یو وخت د پادشاه خان او ډیرو پښتنو تر مخه په خپل غږ لوستی وو، چې ډیرو پښتنو په شمول د بادشاه خان په سرو سترګو ورته ژړل،

نو د دي ځوانیمرګ (ګیله من وزیر) دا تیز تګ ته چې په مبارزه کې به می لیده، نو د عبدالمالک فدا دا شعر به می سترګو ته دریده ،(مرګیه مه راځه درځمه) چې مرحوم فدا استاد دا شعر د بابړۍ د کربلا یا قتل عام په پار یې ویلی چې د پنجاب د پوځ له خوا ډیری پښتانه ظالمانه وژل شوی وو ، د دي شعر د لوستلو پر مهال د مرحوم فدا استاد: په خوله وایی چې :ډیرو خلکو په شمول د پادشاه خان او نورو پښتنو په سرو سترګو ژړل ،د پنجاب د پوځ او د ریاست خاموشی د ګیله من وزیر په وژلو هغه هم د اسلام آباد غوندی ځای کې په رڼا ورځ ډیر څه ښایی ، او ډیر پټ رازونه او دسیسې بر بنډوي ،

### مرګیه مه راځه درځمه

کفن پهٔ ترخ کښې دَ سیالۍ مېدان له ځمه
مـرګیـه مـهٔ راځـه درځمـه
سر پهٔ تلي کښې دَ الله دربار له ځمه
مـرګیـه مـهٔ راځـه درځمـه
پهٔ چارسده کښې کربلا ده
دَ غدارانو پرې صلاح ده
پهٔ سرفروشو واوېلا ده
زهٔ دَ خپل قام سره پهٔ مرګ سیالي کوومه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
بيا دَ وطن پۀ خاوره جنګ دے
ښکُلے مېدان دَ نام آوُ ننګ دے
موريِ ورځمه زړۀ مي تنګ دے
پۀ خپله خاوره خپلي ويني توٌيَومه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
سريِ جامي راکړه زما موريِ
سر راله غوَړ کړه سترګي توريِ
نوم دَ پښتون دے پۀ ما پوريِ
پۀ پښتنه خاوره خپل سر قُربانوٌومه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
مازيګر اُوتم له کوره
رُخصت مي واخيستو له موره
لار چي تياره شوه تکه توره
دَ آجل ځائي ته نيمه شپه ورَسېدمه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
پۀ لس بجي سبا سحر
سرفروش وٌوتل بهر
تريِ نه چاپېره شو لښکر
زۀ دَ قومي صفونو مېنځ کښي ودرېدمه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
خاص دَ جمعي پۀ جماعت
فوځونه وٌختل اوچت
علامي راغلي دَ قيامت
دَ آفسر حُکم ته وۀ هر سپاهي پۀ تمه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
يوٌ خوا ته توپي مشينونه
دَ حکومت واړه فوځونه
بل خوا ته قام خالي لاسونه
مقابلي ته مي کتل حېرانېدمه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
دَ چارسدي پړانګو بېبياني
وړيِ زړيِ ويِ کۀ ځواناني
دَ ورونو مخکي ويِ رواني
دَ سفېد پوشو جذبه نه وه دَ چا کمه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
دَ خوېندو غېږ کښي ماشومان
پۀ سر نيولي وۀ قُرآن
آواز ئي دا وۀ پۀ مېدان
فخرِ آفغانه تا ګټم پۀ خپله مرمه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
ستا دَ ليدو مو تلوسه ده
پۀ دي بنا زمونږ جلسه ده
دَ دُشمن خوشي وسوسه ده
زاري مو نۀ مني منت به کړو تر کومه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
تالا ئي کړل زمونږ کورونه ,
بيا ئي ورپوريِ کړل اوورونه
زمونږ پريِ نۀ رسي زوورونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

له داسي ژونده راله مرګ ښه دے بي غمه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
چا سره توپه کۀ مشين وۀ
کۀ چا سره سرپوښ غوَګين وۀ
هر يو ظالِم له قهره شين وۀ
پۀ يو آواز ئې حمله وکړله محکمه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
دَ خُدائي رښتيني خدمتګار
مړۀ زخميان پرېوتل قرار
چي روسته نۀ شو پۀ دي وار
دَ مشين ګن خُلۀ ئي دوبار کړه راته سمه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
دَ پُښتنو ښکُلي ځوانان
پۀ سپين مېدان شول شهيدان
له خپل وطنه شول قربان
دَ تکبير چغه به وته دَ هر يو فمه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
خلقو اوچت کړل مړۀ زخميان
بيا دَ ګولو شو پري باران
سُور شو پۀ وينو سُور مېدان
جذبه دَ خلقو زياتېدله دم تر دمه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
وليدل ما دَ قام جذبات
هيڅا به نۀ کوؤ هيهات
ښکارېدو مرګ ورته حيات
جونه وي مخکي دَ ځلمو نه څو قدمه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
جلسي له راغي دا خبر
چي پۀ هر پل پۀ هر ګودر
مورچي نيولي دي بادر
غورځوي سين ته سُرخپوشان ځلمي پۀ جمع
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
ځوک آباسين يوړل پۀ ښکته
دَ چا تر اوسه نشته پته
وکړئ تپوس له حکومته
دَ پُښتنو بچي دي مړۀ کړل پۀ څه طمعه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
زۀ دَ قُدرت پۀ ننداره اوم
دَ دي منظر پۀ نظاره اوم
دَ مشين ګن خولي ته ښکاره اوم
چي مخامخ دَ زړۀ پۀ سر ولګېدمه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
ګولو مي غوښي کړلي فاش
خلقو اوچت کړو زما لاش
ما پسي مۀ کوئ تلاش
زۀ عليين ته هغه وخت ورسېدمه
مـرګيـه مـۀ راځـه درځمـه
دَ پاکستان وړي فوځونو
مړۀ زخميان وکړل پۀ زرګنو

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

دوي دَ خندا شول دَ قومونو
يؤ ظلم نهٔ دے زهٔ به ئې کوم کوم يادومه
مـرګيـه مـهٔ راځـه درځمـه
پهٔ آخرت چې رب قاضي شي
پهٔ شفاعت رسول راضي شي
وار دَ شهيد او دَ غازي شي
زهٔ به غلبېل سينه دَ خُدائې پهٔ مخکې ږدمه
مـرګيـه مـهٔ راځـه درځمـه
آتهٔ څلوېښت کاله پهٔ شمېر
نهٔ مې دے نولّس سوه هېر
دا دَ عيسىٰ رسول وهٔ تېر
ورځ دَ زيارت وه دَ اګست وه دولسمه
مـرګيـه مـهٔ راځـه درځمـه
عبدالمالکه ځان فِدا کړه
پورته دَ حق يوه صدا کړه
نوې ژوندون قام له پېدا کړه
کهٔ خُدائې راضي شي سفارش به دې کوينه
مـرګيـه مـهٔ راځـه درځمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ